# شکست (ناکامی) و کامیابی (کامرانی)

شاید شما ها چیزهای زیادی راجع به این موضوع مطالعه و پژوهش کرده باشید و چیزهای از آنها آموخته باشید، اکنون من هم می خواهم نکات مختصر راجع به این مطلب قرار ذیل تحریر بدارم.

شکست و ناکامی هر دو از نعمان بزرگ خداوند لایزال برای بنده گانش است که این دو پدیده باهم به قسم لازم و ملزوم واقع شده اند (شکست نباشد کامرانی هرگز واقع شده نمی تواند) به ادامه گفته میتوانیم که هر شکست اندک، راه بزرگ است برای کامیابی بزرگ و هر شکست قدم بزرگ است برای کامیابی هدف مان.

مدیر مکتب مان، استاد های مان و دوستان مان همیشه راجع به این حرف می زنند که از شکست کوچک و بزرگ نباید در زنده گی ناامید شویم؛ چیز های می گویند که واقعاً حق به جانب می باشند زیرا از تجربه خود و دیگران قصه می کنند. انسان موفق آن است که به همین سخن ها عمل کند، انسان موفق ان است که از ناکامی های خود تجربه گرفته و در آینده متوجه همان نکته میباشد و همچنان گفته میتوانیم که انسان های موفق آنان اند که از بزرگترین شکست خود نا امید نمی شوند و از بزرگترین پیرزوی خود مغرور نمی شوند و همیشه تلاش می ورزند تا با شکست های کوچک کامیابی های بزرگ را نصیب خود می گرداند و از آن استفاده برای خود و دیگران می کند.

زنده گی انسان بدون شکست ناممکن است هر انسان در زنده گی خود در مقابل شخصی، گروهی، نهادی و یا هم هدفی منجر به شکست شده که بعضی ها رنج برده و بعضی ها استفاده کرده اند و هر گاه قانون را از اخلاق مقدم دانستیم شخص موفق خواهیم بود.

حقیقت در این است که هیچ ناکامی را مانع به هدف مان و هیچ کامیابی را مانع به ناکامی مان چون انسان جامع الکمالات نیست و همیشه میل آن بسوی کار هایست که نباید انجام دهد البته بدون استثناء.

پس:

بزرگترین کامیابی برای ما جوانان همین است که در چارچوب جامعه اسلامی زنده گی نموده و خدمت بشریت را وجیبه خود گردانیم و همچنان خدمت به بشریت و وطن هر دو را وجیبه خود گردانیم و به گردن خو دین گردانیم چنانکه رسول خدا (ص) می فرماید «الحب الوطن من الایمان» یعنی محبت کردن به وطن و خدمت کردن به وطن جزء از ایمان است.

**نوشته: سید مصطفی «سادات»**
**متعلم صنف یازده هم لیسه عالی حضرت عمر فاروق «رض»**

## فرد شجاع

عشق می ورزی به وطن خویش ای اهل نظام
پرورده این خاکی این را میکنی اعلام
خوشحال والدین که فرزندی به مثل تو هدیه داد
به جامعه خویش افتخار بخشید و بهترین تحفه داد
همت ات درخشید چون آفتاب به آسمان موفقیت
تا همه افتخار کنند از وجودت در همین موقعیت
مرام تو آرامش مردم همین خاک
بازویت شویم ای فرد شجاع که تو داری هدف پاک
نیاز دارد این کشور به اشخاص همچو تو اهل ایمان
تا باشد آباد و سربلند در همه جهان
در پیروزی تو کوشش بی نهایت کنیم
با اتحاد باشیم و از تو حمایت کنیم
خورد بودی اما امروز تو جوان این وطنی
خدمت تو ثابت کرده قهرمان این وطنی
امور نظام و حفاظت از وطن تو
عشق وطن در هر قطره خون و تن و تو
خدمت مقدس تو قابل ستایش است
تو فردی که همت ات به مردم یک آسایش است
ثابت ساختی همین را با فدا کردن خود
که دوست داری این خاک را با از دست دادن خود
اهتزاز پرچم ات هر روز از همت توست
همه وقت پیروز بودی این از شجاعت توست

**شاعر: فرحناز «فرحت»**

# ولس: وسلوال باید د سولې فرصت له لاسه ورنکړي

شاوخوا یو نیم کال وړاندې د امریکا متحده ایالاتو او د وسلوالو طالبانو له لوري د سولې خبرې اترې پیل شوې.

په دې یو نیم کلن مزل کې د سولې په برخه کې ډېرې لوړې او ژورې منځ ته راغلې. که څه هم طالبانو له افغان حکومت سره د مخامخ خبرو غوښتنه په وار وار سره رد کړې وه، خو بیا هم افغان حکومت او عام خلک دې ته خوشبین ؤ، چې د سولې دغه خبرې به تریوې اندازې پورې ګټورې تمامې شي.

د وسلوالو طالبانو مشرانو بېلابېلو هېوادونو او سازمانونو سره د سولې په اړه ناستې هم وکړې، د کارپوهانو په خبره دې مشورتي ناستو د طالبانو دریځ روښانه او د سولې په راوستو کې یې ځینې خبرې ومنلې. بالاخره څلورمیاشتې وړاندې طالبانو له امریکایانو سره د زلمي خلیلزاد په مشرۍ د قطر په دوحه کې د سولې تړون لاسلیک کړ.

ټاکل شوې وه، ددې تړون له مخې به پنځه زره طالب جنګیالي چې اوس مهال د افغان دولت په زندانونو کې ؤ خوشې شي او افغان سرتیرى چې د وسلوالو طالبانو سره بندیان دې هغه به هم خوشې کیږي. له دې وروسته به بین الافغاني مزکرات پیل شي.

خو افغان حکومت دطالبانو د پنځه زره جنګیالیو د خلاصون په اړه غبرګون وښود او اعلان یې وکړ، چې دوی دومره شمېر جنګیالي په یو ځل نشي خلاصولی وسلوالو طالبانو ددې اعلان په غبرګون کې پر یو شمېر سیمو کې پر افغان ځواکونو بریدونه پیل کړل، چې دغه کار د حکومت او عامو خلکو د مخالفت لامل وګرځېد.

خلک وایي که چېرې طالب جنګیالی تاوتریخوالی کم نه کړي د سولې تړون او د سولې نورې برخې به هم کومه نتیجه ورنکړي. که چېرې وسلوال طالبان متقابل اقدام غوره نکړي او لاهم له حکومت سره جګړې ته دوام ورکړي، نو کیدای شي د سولې په روانه پروسه بده اغیزه وکړي او یا به په ټپه ودریږي.

د عامو خلکو باور او نظر هم همدادی که چېرې وسلوال طالبان له امریکا سره د سولې د تړون راوروسته خپلې جګړې ته ادامه ورکړي نو له یوې خوا به په ولس کې خپل اعتبار نور هم له لاسه ورکړي او له بلې خوا دغه چانس چې د سولې په راوستلو کې افغانانو ته په لاس ورغلی له لاسه ورکولو مسؤل به هم دوی وي.

بله مهمه خبره داده، چې پخوابه وسلوالو طالبانو له امریکا سره جګړه کوله، خو له امریکایانو سره د تړون وروسته د خپل دولت سره جګړه کول ملي خیانت او دپردیو استخباراتو جګړې په نوم یادیږي او ټول زیان یې صرف افغانانو ته رسیږي.

که چېرې طالبان سولې ته غاړه کېنږدي هغه جګړې، بدبختۍ، ناخوالې او اقتصادي ستونزې چې افغانان ورسره مخ کیږي ددې ټولو مسولیت به ددوی پر غاړه وي او دوی باید په دې وپوهیږي، چې سوله راتلونکې ده او کله چې سوله راځي له بیځایه جنګ جګړو څخه لاس واخلي او د یوه سوکاله هیواد په جوړلو کې خپله ونډه واخلي.

**لیکوال: خالد «نیکزاد»**

# تخریب محیط زیست نابودی زندگیست

با توجه به ارشادات و روایات متعدد که از منابع اسلامی مبنی بر حفظ محیط زیست وارد گردیده و تمام انسانها را مکلف به حفاظت و حراست از محیط زیست نموده و به هیچ کس حق فساد و آلوده کردن خاک، آب و هوا را نداده است، چونکه طبیعت نعمتی است که خداوند متعال به امانت دراختیار ما قرارداده و دربرابر چگونگی بهره برداری از آن مسوول هستیم.

در فرهنگ اسلامی طبیعت گهواره و زمنیه ساز پرورش انسان معرفی شده است و هرکس که به این پدیده حیاتی آسیب و زیان برساند و آن را برخلاف نیاز و رشد بشر تخریب و آلوده نماید به شدت نهی می کند، زیرا نظام طبیعت بر اساس حکمت آفریده شده است و همه عناصر آن از ابر، باد، ماه، خورشید و فلک در کارند و زندگی راکه موهبت بزرگ الهی است در راه حصول ارزشهای انسانی به شایستگی در خود به کمال برساند.

درهرحال حفاظت از محیط زیست، وجیبه شرعی و انسانی همگانی است؛ به یاد داشته باشیم که در جهت حفاظت از محیط زیست، بیش از هر زمان دیگر اکنون نیازمند هستیم؛ با آلوده کردن آب، خاک، هوا و محیط زیست، زمینه ساز امراض و نابودی حتمی خود، خانواده ودیگران نشویم، فراموش نکنیم که همه ما در قبال حیات افراد جامعه و نعمات طبیعی که تامین کننده حیات اجتماعی است، مسئولیت انسانی و ایمانی داریم و بدانیم که تخریب محیط زیست نابودی زندگیست.

**ترتیب کننده: محمدسمیع «صمیمي»**

# جمهور رییس غني د لوګر ولایت په عمومي...

جمهور رییس غني د هغوی د خبرو تر اورېدو وروسته، د وروستیو پېښو د شهیدانو او په لوګر ولایت کې د کرونا ویروس له امله د یو شمېر مشرانو د وفات له امله د هغوی روح ته د دعا ترڅنګ وویل، د کرونا ویروس له خپرېدو وروسته ما خپل لومړنی سفر له لوګر ولایت څخه پیل کړ او ستاسو غوښتنو ته د پاملرنې ترڅنګ به تر راتلونکې یوې میاشتې پورې د مېلمستون جوړولو کار د ارګ د عملیاتي واحد له لوري پیل شي.

جمهور رییس د لوګر ولایت لپاره د یوې ښځینه مرستیالۍ د ټاکلو وړاندیز منظور کړ او د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې رییس ته یې دنده وسپارله چې د هغې د ګمارلو په برخه کې اقدام وکړي.

د هیواد جمهور رییس هغوی ته وویل، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه مو د لومړیتوبونو پر اساس وړاندې کړئ او د لویو لارو د امنیت پر تامین سربېره باید د ټولو ولسوالیو امنیت هم تامین شي.

جمهور رییس پر دې په ټینګار چې د ستونزو او خنډونو د لمنځه وړلو لپاره باید له خلکو سره لا زیات کار وشي وویل، غواړم چې لوګر ببرته د کابل په دروازه او کندو بدل شي او د لوګر ولایت په ادارو کې باید د دې ولایت د ټولو ولسوالیو استازي حضور ولري.

د هیواد جمهور رییس د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې ته لارښوونه وکړه، چې د لوګر ولایت له مسوولینو او خلکو سره په همکارۍ د نیمه، بشپړو شویو او د تطبیق په حال کې پروژو لېست ترتیب کړي، ترڅو جمهوري ریاست د لوګر والي او اړوندو وزارتونو سره د غونډو له لارې د هغو د تطبیق لپاره، اقدام وکړي.

جمهوررییس وویل، د بندونو د جوړولو لپاره واضح پلان جوړ شوی او دا چې په لوګر ولایت کې پر مسو سربېره شاوخوا ۲۰ ډوله کاني مواد هم تثبیت شوي دي، د هغو د استخراج لپاره به لا زیاته پاملرنه وشي.

جمهور رییس غني وویل، د لوګر سیندونه او اوبه به مدیریت شي او دې ته په اشارې چې د لوګر خلکو تل ملي فکر او عمل کړی دی، په دې ولایت کې باید د کوچیانو او ځایي خلکو ترمنځ ستونزه نه وي.

هغه ځوانانو ته د کارموندنې، سرتاسري مشارکت او د هغوی د مسوولیت منلو حس مهم وباله او وې ویل، موږ ټول باید اصول او قوانین ومنو، هیواد او خلکو ته ژمنتیا ولرو او د قانون پر اساس کار او هڅه وکړو.

جمهور رییس د خپلو خبرو په پای کې ټینګار وکړ چې پر امنیتي او دفاعي ځواکونو هېڅ ډول معامله نه کېږي او سوله ملي ده، قومي، سمتي او ګوندي نه ده.



# فیسبوک او کارونه یې!

فېسبوک یوه ټولنیزه انترنیټي پاڼه ده، چې په کال ۲۰۰۳ میلادي کې دامریکا په هارورډ پوهنتون کې د (مارک زکربرګ) لخوا جوړه او دنړۍ ټولو هېوادونو ته ورسیده، دغه ټولنیزه شبکه لس کاله وړاندې افغانستان ته راورسیده او خلکو ورڅخه ګټه پورته کړه، چې اوسمهال دیوې څېړنې له مخې ددې ټولنیزې شبکې کارونکي په نړۍ کې شاوخوا تر درې میلیاردو پورې رسیږي.

که چیرته یادې شبکې په ځوانانو یو څه منفي اغیزې ښیندلي، خو ډیریو ته سهولتونه او آسانتیاوې هم رامنځته کړي دي.

دفېسبوک کارونکي په ننني ټکنالوژۍ عصر کې له منفي خطراتو نه ډډه اوهڅه وکړي، هغه څه خپاره کړي، چې دخلکو دپوهې او مالوماتو کچه په لوړولو کې اغیزمن تمام شي. دناوړو موضوعګانو په خپراوي کې په کلکه مخنیوی او دغلطو انځورونو او ویډیوګانو په ځای دې دښکلو اوښایسته متنونو او خلکو ته وړ مطلبونه خپاره کړي.

که منفي لورې ته یې وګورو، نو دا به دخلکو په اذهانو ناوړه تاثیرات ولري، ځکه یو خو د وخت ضایع کیدو سبب کیږي او بل دا چې دخلکو فکرونه خرابوي یا یې منفي لوري ته بیایي.

ځیني کسان چې له دغې شبکې نه ناوړه ګټه اخلي، دهغوی عواقب له خطرونو سره مخ کیږي او هم خپل شخصیت ترپښولاندې کوي.

که له ټولنیزو شبکو نه ځوک ناوړه استفاده کوي، یا چا ته پکې سپکاوی او شخصیت وژنه کوي او په مستعار نومونو فېسبوک پاڼې جوړوي، دا یې دځان په شخصیت او علمیت ملنډې وهل دي، البته مقابل لوري ته کوم زیان نه رسیږي؛ بلکې دا به یې دکورنۍ روزنه وي، چې دفېسبوک کارن یې کاروي.

فېسبوک کې ورځني مالومات، مطلبونه، او نور خورا مهم مضمونونه پورته کول دشخص په پوهې تړاو لري، ځکه نور کسان چې دده مطلبونه ګوري یا یې لولي ډیر څه زده کوي او هم خلک ورباندې مثبتې څرګندونې کوي، دلته به یې دموضوع دپورته کوونکي مطلب نورهم پیاوړې شي.

دفېسبوک کارونه دپوهې او پوهاوي لپاره ګټمن تمامیدای شي او که په غلطو یې ځوک وکاروي، نو تر دې به لویه ناپوهي په ټولنه کې نه وي. لوستي کسانو سره نه ښایي، چې ټولنه دناپوهۍ لوري ته مخه ورکړي، بلکې کوښښ وکړي، چې دهمدې ټولنیزې شبکې له لارې بېلابېل علمي، معلوماتي او پرمختګیز متنونه ولیکي او له دې ټولنیزې شبکې څخه به یې خلکو ته ډېرې ګټې دلیکنو لارې ترسره کړې وي.

**لیکنه: شیرمحمدامیني «ستانکزی»**